Diploma Programme
Programme du diplôme
Programa del Diploma

# Pashto A: literature – Standard level – Paper 1
# Pachto A : littérature – Niveau moyen – Épreuve 1
# Pashtu A: literatura – Nivel medio – Prueba 1

Wednesday 4 May 2016 (afternoon)
Mercredi 4 mai 2016 (après-midi)
Miércoles 4 de mayo de 2016 (tarde)

1 hour 30 minutes / 1 heure 30 minutes / 1 hora 30 minutos

---

### Instructions to candidates

- Do not open this examination paper until instructed to do so.
- Write a guided literary analysis on one passage only. In your answer you must address both of the guiding questions provided.
- The maximum mark for this examination paper is **[20 marks]**.

### Instructions destinées aux candidats

- N’ouvrez pas cette épreuve avant d’y être autorisé(e).
- Rédigez une analyse littéraire dirigée d’un seul des passages. Les deux questions d’orientation fournies doivent être traitées dans votre réponse.
- Le nombre maximum de points pour cette épreuve d’examen est de **[20 points]**.

### Instrucciones para los alumnos

- No abra esta prueba hasta que se lo autoricen.
- Escriba un análisis literario guiado sobre un solo pasaje. Debe abordar las dos preguntas de orientación en su respuesta.
- La puntuación máxima para esta prueba de examen es **[20 puntos]**.

2216 – 0623



© International Baccalaureate Organization 2016

International Baccalaureate®
Baccalauréat International
Bachillerato Internacional

https://xtremepape.rs/

فقط پر **یو** متن لاربنودلشوی ادبی څیړنه ولکئ. تاسی په خپل ځواب کښي باید دواړو لاربنودلشویو سوالونو ته ځواب ووایاست.

**1.**

## ستړی ژوند

ژېړی مازیګری و کور کې مې زړه تنګ شو ومې غوښتل د چکر لپاره د سیند غاړې ته لاړ شم. له کوره راووتم کوڅه کې روان وم ناڅاپه زموږ د ګاونډي د کور دورازه خلاصه شوه، ومې لیدل چې له دروازې زما ملګری احمد راووت. احمد له کابل څخه جلال آباد ته پوهنتون لوستلو ته راغلی و او دلته یې د اوسیدو لپاره ځانته کور نیولی و. سلام مې پرې وکړ هغه یې ځواب راکړ، سملاسي یې راڅخه وپوښتل کوم خوا روان یې؟ ورته کړل مې زړه مې راتنګ شوی د سیند غاړې ته ځم، هغه هم لکه چې په همدې نیت له کوره راوتی و، دواړه یو ځای د سیند غاړې ته لاړو. هلته له چکر وهلو وروسته د یو لاس ګاډي په لور ورغلو چې نخود په کې پلورل کیدل. ومو لیدل یو ماشوم چې شاوخو لس کاله عمر یې درلود د ګاډۍ ترشاه ولاړ دی. زما ملګري ماشوم ته په ځیر ځیر کتل. پرې غږ مې کړ: احمده څه فکر کوې؟ خو هغه ځواب رانه کړ او همغسې په فکر کې ډوب و. داځل مې خپل غږ لوړ کړ چې څه خبره ده! راته کړه یې د نخود پلورنکي په لیدو راته د خپل ستړي ژوند کیسه راپه یاد شوه. ما ورته وویل: کومه کیسه؟ احمد خپله کیسه دا ډول پیل کړه:

څوکاله وړاندې مونږ د فارم هډې په کمپ کې اوسیدو د ښوونځي عمر چې مې پوره شو نو پلار مې د کور ترڅنګ په یو ښوونځي کې داخل کړم. زه هم په ډېر شوق ښوونځي ته تلم ډېره خواري به مې کوله او دویم ټولګي ته په لومړۍ درجه بریالی شوم، پلار مې په دې ډېر خوشاله و. څه موده وروسته مو کور د یو څه ستونزو له امله جلال اباد ښار ته راغی، د طالبانو واکمني وه د کور اقتصادي حالت مو ښه نه و، نو په کوڅو کې مې د نخودو پلورل پیل کړل، سهار وختي به د نخودو دیګ په سر د ښار کوڅو کې ګرځیدم او چې د غرمې دولس بجې به شوې؛ نو د کور پرلور به روان شوم او تر ډوډۍ خوړلو وروسته به ښوونځي ته تلم. څه موده وروسته مې پلار د بزګرۍ لپاره ځمکه ونیوله او ماته به یې همدا ویل چې زویه خپل سبق وایه ترڅو دې راتلونکی روښانه وي. ما هم د پلار خبره په ځمکه نه غورځوله او ښوونځي ته به په ډېره مینه تلم. کله چې پینځم ټولګي ته ورسیدم مونږ هم لکه د بیځالې مرغۍ په څیر خپل کور کله په یوه او کله په بله ګرځوه. دا ځل مو کور کابل ته یووړ، اقتصادي حالت ورځ تربلې خرابیده. پلار مې هم کوم کار نه درلود، زه هم مجبور شوم د کابل په سخته یخنۍ کې لاس ګاډی وچلوم او همداسې مې وکړ. له یو خپلوان څخه مې لاس ګاډی په کشت (پور) واخیست او ورته ومې ویل چې د ورځې به ۵۰ افغانۍ درکوم، هغه راسره ومنله. ما هم له ځان سره سه پارچه وړې وه او کابل کې مې په یو ښوونځي کې چې زموږ له کوره لرې و ځان شامل کړ. درسونه مې پیل کړل، په ښار کې د لاس ګاډي چلولو څخه ډېر تنګ شوم؛ ځکه چې هرټولګیوال به لیدلم نو ملنډې به یې راباندې وهلې. همغه و چې یو ملګري مې راته د خښتو په بټۍ کې کار پیدا کړ. ما سمدستي ورسره هوکړه وکړه او د خښتو په بټۍ کې مې کار پیل کړ. سهار وختي به بټۍ ته تلم او وروسته به ښوونځي ته. یوه ورځ چې په بټۍ کې ډېر بوخت وم، چې ساعت ته مې وکتل یوه بجه وه، ومې نه شو کړای چې خپلې جامې بدلې کړم او په همغو خیرنو کالو کې لاړم. هلته چې استاد ولیدلم خبر و چې زه ډېر غریب یم نو سترګې یې له اوښکو ډکې شوې او راته کړه یې: بچیه همت دلاسه ورنه کړې دا سختې به خدای تیرې کړي، زه په تا ویاړم.

د استاد په دې خبرې اوېدو مې ټوله ستوماني او اندېښنه هیره شوه. ما ته به په ښوونځي کې ډېرې سختې ورځې د ازموینو وې؛ ځکه چې سهار وختي به بټۍ ته تلم، تر ماسپښینه به مې کار کوه او زما نورو ملګرو به تر ماسپښینه د ونو سیوري ته سبقونه زده کول. لنډه دا چې په ډېر مشکل سره مې ښوونځی ولوست او له دولسم ټولګي فارغ شوم. د ژمي سختې شپې وې د بټۍ کارونه هم ودرېدل ما به هم کله یو او کله بل ځای مزدوري کوله. یوه ورځ مې یو ملګري چې ماسره یې یو ځای دیاړي کوله راته کړه یې

https://xtremepape.rs/

زما او ستا ترمنځ څه توپیر دی.  زه بې تعلیمه یم او تا ښوونځی لوستی خو دواړه په یو شان مزدوري کار کوو.  ددې پرځای به دې یو کسب زده کړی و؛ خو ماته مې د پلار خبره را په زړه شوه چې راته ویل به یې بچیه سبق پرې نږدې.  خو یو کال وروسته مو د عا قبوله شوه پلار مې په یوې موسسه کې په دنده وګمارل شو.  زما د بخت ستوری هم وځلید د کانکور ازموینه مې ورکړه او چې کله یې پایلې راووتې نو پلار مې راباندې زېری وکړ چې د ننګرهار اسلامي پوهنتون ته بریالی شوی یې اوس مو ژوند ډېر ښه روان دی.  هغه چا رښتیا ویلي دي، «بې زحمته راحت نشته»

حفیظ الله نظیمي, *ستړی ژوند* (2012)

(a) دا تشریح کړئ چی په دې لیکنه کښې د لیکوال پیغام څه دئ.

(b) لیکوال خپل پیغام لوستونکوته څنګه رسولی دئ؟



https://xtremepape.rs/

.2

راشه مـــــــــــــــئ کوه له چاسره جــفا
لږ ژوندون دے ضائع کیږي بې وفا

په دنیا کښې هیڅوک نۀ دي پاتې شوي
واړه تلوني دي کۀ نن دي کۀ سبــــــــــا

د خزان پاڼې چې بیلې شي له ښاخه
په حکمت به یې پیوند نۀ کا حکمـــــــا

چې په زمکه څاڅکے پرېوځي له اسمانه
بیا له زمکې ختے نۀ شي په سمـــــــــا

ګومان مۀ کړه چې به بیا سترګو له ور شي
هغـــــــــــــــه اوښې چې له سترګوشي جدا

دا په هره ورځ چې خیژي بیل بیل لمر دے
هر چې پرېوزي هغه نۀ شي ختے بیــــــــــا

کۀ تمام جهان په خپله ګېډه وخورې
یاد به نۀ شي په درود او په دعـــــــــا

پروفیسر طٰهٰ خان ، کلیات رحمان بابا (2006)

(a) شاعر څه وائي چې ژوند څنګه تیرول پکار دي؟

(b) شاعر د خپل پیغام د رسولو لپاره کوم تخنیکونه استعمالوی؟

https://xtremepape.rs/